

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بی پروا انجلی

لیکوال:سیدادریس سادات

ترتیب کونکی :دښار هلک

برخه: لومړۍ

سرچینه:عمومی کتابتون سادات کتابتون

https://chat.whatsapp.com/LVdEazS05b47FvUmKtueEY دداسی ښکلو ناولونو لپاره سادات کتابتون سره ځانونه جوین کړی

👇👇👇اویا هم زما واتساپ ته مسیج وکړئ

0731363201

(c) ketabton.com: The Digital Library

. نیمه شپه وه هری خواته دخوف تیاره پرته وه

.زه خپل بیړ کی دمجردۍ په خواږه خوب ویده وم

.اسمان کی هم دبریښنا پړکا وه

.دژمی خوږ خوب وو

. سپینه شړۍ می لکه دواوری په رقم شپه کی رڼا کوله

.ناګهانه شړنګار شو

.یو دم دخپل خواږه خوبه راویخ شوم

. په ټکنده زړګی می لاس کیښود

.ضربه یی بیخي زیاته وه

.موبایل می څنګ کی پروت وو

.زنګ ورته راروان وو

حیران شوم په دی نیمه شپه زما پشان مجرد سړي ته

.څوک زنګ راوهي

.موبایل می اوکی کړ

. په قلاره می خپل خي لاس غوږ ته نږدی کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

. دمقابل طرف نه نری اواز راغی

. اسلام علیکم تاسی سادات یاست

. ما ورته وویل:هو

.زه سادات یم

.ولی ستاسی څه کار وو

. ویل یی:هو زه دیاسین اکا لور یم

.ستاسی دورور دخسر زوم رازي

ما وویل خاخا .

. یاسین اکا خو ډیر خه سړی دی

ما یاسین اکا بیخی ونه پیژانده خو دمیلمه پالنی اهمیت راته معلوم و.

.میلمه مو نشو خفه کولای

. ځکه می ورته وویل:سمه ده ماته څه امر خدمت وي

. ویل یی زه ننګرهار ته راغلی یم

. دلته ښوک پیژنم نه شپه می یو باغ کی راغلی ده

نه یی پیژنم ستا نمبر می اوس په فیسبوک کی

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیداکړ.

. تاسې کولای شئ ماسره مرسته وکړئ

. بس زما ځواب به ضرور هو وو

. چې په نیمه شپه یو څوک درته زنګ ووهي

ضرور به ورته هو وایې.

په نیمه شپه راپاسیدم تر ګراچ پورې مې ځان راورساوه.

. دموټر دروازه مې خلاصه کړه

. چابې مې ورکې تاوه کړه

موټر چالان شو دګراج دروازه مې خلاصه کړه موټر مې وباسلو.

. سترګې مې موخلې

کلار کلار باران هم شروع وو.

اسمان کې هر رقم پړکار شروع وو.

. خو ما موټر دامیر شهید باغ طرف ته روان کړ

فکر مې کاوه چمن خو امیر شهید باغ کې دی صرف خو یو څو منټه وروسته زنګ راغی .

ویل یې:زه دعیدګاه جومات چمن کې یمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

. وس می وکتل لوحه کی

. زه روان شوم عیدګاه جومات ته

. ریښتیا هم عید ګاه جومات کی راته ناسته وه

. کورته می راوستله

. مور می ویده وه

.انجلۍ ته می ځای جوړ کړ

. هغه هم ویده سوه زه هم خپله کوټه کی ویده سوم

.ما ویل سهار به ګورو پخیر

. دسهار دلمر وړانګه په اشه داره کی راننوته

. سترګی یی راته وبریښولی

.راپاسیدم ګورم لمر راختلی وو

.لمونځ راڅخه قضا شوی وو

.تشناب ته لاړم اودس می په ژمی کی په تړمو اوبو وکړ

.په سخته یخنۍ کی نوبیا ګرمی اوبه بیل خوند لري

.خپل قضا شوی لمونځ می ادا کړ

.بیرون ته چی راووتم جینی په کټارو لاسونه ایخی وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

. لرى يى زموږ ښكلى باغ ته كتل

. زه هم سنګ كى ورسره ودريدم

. داوخت مى مور راغله ويل يى زويه داجينى څوک ده

. ماورته وويل:مورى داداياسين اكا لور ده

بيګاه ميلمنه وه راغلى وه دلته خو څوک يى نه پيژندل ماته زنګ ووهو ماكور ته راوسته.

مور مى وويل دا خو دى ډير خه كار كړى.

مور مى ورځينى وپوښتل لورى لكه چى دپيخور نه راغلى يى.

جينى وويل :هو ترورى

مور مى ورته وويل :نوم خو دى راوخايه.

. جينى ورته وويل زما نوم روبينه دى

. مور مى روبينى ته وويل :لورى داخپل كور وګڼه

همدلته اوسه خو داراته ووهيه چى ننګرهار كى دى څه كار وو چى راغلى وى.

. جينى وويل :هو

. دپلار مى پخپل كلى كى يو څه ځمكه ده

. پلار مى وس سخت مريض دى پيسو ته ضرورت لرى

(c) ketabton.com: The Digital Library

غواړم هغه ځمکه خرڅه کړم.

ترڅو دپلار تداوی وکړم .

زما پلار په ما باندی ډیر ګران دی تراوسه خو می استاذی کوله.

هیڅ مشکل نه وو خو اوس دپیخور په هسپتالونو کی ستنی ورته لګوی .

دانه ستنه په لک کلداری ده پوره شل ستنی به ورته لګی همداسی ددوایانو ددی هر څه پیسی ډیری زیاتی لګی ځکه می دافیصله وکړه چی خپله دکلی ځمکه ورته خرڅه کړم .

پلار می هم په باغ کی راروان وو دجینی خبره یی واوریده .

ماته یی وویل :ادریسه دی جینی سره به ولاړ شی پاکستان ته او په پلار چی یی هر څومره پیسی مصرفیږی مصرف یی کړه .

زه حیران شوم پلار ته می وویل :دادا ګوره پیسی خو دلاس خیری دی کله تاسره کله ماسره خو باید چی ددی جینی خه سمه پښتنه وکړو چی ریشتیا وایی کنه .

پلار می وویل:بس دازما امر دی .

ته به سبا زی پاکستان ته او دروبینی دپلار علاج به کوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

. مانو دپلار امر نشو ترک کولای

. سبا لپاره می ځان اماده کړ

. بیګ کی می جامی واچولی

. مور ته می ډیر فریادونه وکړل

. چی ګوره دادا می ولی داسی کوي

. زه هم ژوند لرم

. نوکران خو ډیر دی بل څوک دی ورسره ولیګی

خو مور به می ویل :بچیه دی کی به ستا ګټه وي هیڅ انسان هم پخپل ګټه او تاوان نه پوهیږی.

نور سبا اته بجی دشپی نشروم په تمه اوسئ.

🌹🌹🌹🌹.بی_پروا_انجلی_ناول_دوهمه_برخه#

🌹🌹🌹🌹🌹"لیکوال:سیدادریس🌹🌹🌹"سادات

خو مور به می ویل :بچیه دی کی به ستا ګټه وي هیڅ انسان هم پخپل ګټه او تاوان نه پوهیږی.

. په سبا یی ما خپل بیګ شاته واچولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

. دخپل مور اوپلار سره مې خدای پاماني وکړه

. روان سوم په یو نامعلوم سفر

.خو ماسره پاسپورټ نه وو

. روبینی ته مې وویل:ماسره پاسپورټ نشته

. همدی لپاره خوشحاله وم چې جینی به پریږدم لاړه به شي

. او زه به لاړ شم کابل ته دتره زامنو سره به پاتې شم

.جینی راته وویل:وس نو چشی به کوی

ما ورته وویل:نو ستا خپله لاره زما خپله لاره جینی وویل مشکل نسته خو زما وخت به دی نه رازایه کولو ما به{:

. تراوسه وخته خپله ځمکه خرڅه کړی وای

. جینی په یوه روانه شوه زه په بله

خو زما ضمیر ونه منله بیرته پسی ورغلم جینی ته مې وویل

. رازه ځو پخیر دچمن په لاره

. دجینی داخبره خوخه شوه

زه هم ورسره روان شوم ننګرهار ښار کی مو دکابل هډی ته

. ځان ورساوه

. هغه ځای نه دکابل هډی موټر کی کښیناستم

(c) ketabton.com: The Digital Library

. جینی می خواکی کښیناستله

. دکابل په لاره رهي سو

. ډیره دخوندونو نه ډکه لاره ده

.یو ټوډی موټر مو کرایه کړی وو

.ټوډی والا هم خه تبی سړی وو

.موټر کی یی داشنغر مغرور ملنګ سندره چالانه کړی وه

. خو موټروان ویل کابل کی ډیره یخنی ده

. تاسی خو به چشی راخیستی وی

. واوره هم شوی ده

.چی هلته پری خپله یخنی کمه کړی

. کوم جاکټ چشی خو به درسره وي

موږ ورته وویل هو شته دی وروره ننګرهار ګی هم
. ویروونکی وریځ چلیده

. یخ طوفان هم لګیده

. جینی بیخی خبری نه کولی ډیره بی پروا وه

. تابه ویل هیڅ چل هم ندی شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

. دی دطبیعت دمنظرو نه خوند اخیست

.ما ورباندی غږ وکړ

. بی پروا انجلۍ ښنګه یی

. زما خیال دی په لومړی ځل به دکابل واوره وینی

.ویل یی هو

ماورته وویل:خوخه دی ده چی نور درته زه په بی پروا انجلی
. غږ وکړم

ویل یی -

. هو

.په دی نوم سره زما غمونه لګ څه کمیږی ته کولای شی

. لاره مو وهله

په لاره کی دوطن غرونو او ځنګلونو ډیر په تیزی سره شاته
. منډی وهلی

. موټر وان نو دنصوارو چونډی اچولی وه

. ځانته یی سندره چالانه کړی وه

داسی په موشن کی روان وو -

. تا به ویل :دجهان پادشاه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

. لغمان دوسرکی نه چی واوښتو

. دلته یو جومات وو

. موټروان ته می وویل :وروره دی غاړی ته ودریږه

. مونځ به وکړو بیابه ځو موټر یی غاړی ته ودراوه

. لومړی مو دچینی په یخو اوبو اودس وکړ

بی پروا انجلۍ هم دمخ نه نقاب لری کړ دچینی یخی اوبه یی دمخ په سپین پوستکی واچولی.

خپل سپین دملغلرو لاسونه یی پری کش کړل.

موږ ځانونه تازه کړل خپل دماسپښین لمونځونه مو وکړل.

او روان شولو.

. جوټروان چونډۍ تازه کړه

بیا هاغسی په موشن کی روان شو.

. په لاره کی دننګرهار په لور دیو سیند اوبه روانی وی

داسی چپی یی لرلی.

لکه زوی چی دډیر وخت وروسته خپله مور لیدلی وی.

. اودهغی په لور منډی وهی

(c) ketabton.com: The Digital Library

. اوبه ډیری روڼی

. دډیر روڼتیا نه پکی لاندی تیږ.ی معلومیدی

. یوځای کی غرونه راغلل

.لمر تر خپل شا پټ کړ

.په سره غرمه کی یی مازیګری جوړ کړ

. هر کله چی سروبی ته ورسیدو

. لګ څه ماهیان مو راواخیستل

. زما خو ورته زړه نه کیده خو بی پروا انجلۍ

.ډیر په خوند خوند خوړل زما یی هم ورته زړه وکړ

. خو دغیرت نه می ورڅخه ګوله نشوه کولای

. اخر کی می لاس ورتیر کړ

. بی پروا انجلۍ می لاس ونیو

ویل یی

. تاخو نه خوړل کنه ځنګه دی وس لاس راوړ

ما ورته وویل:دانو څه معنا ته یی دومره په خوند خوند خوری زما دی هم ورته زړه وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Mتر ماهیپره پوری په تروو کبانو مشغوله وو

لیموان مو پری اچولی وو.

. خو ماهیپرنه وروسته اصلی ننداری شروع سوی

. ښکلی منظره وه

. دماهیپر تونلونه او همداسی په قلار قلار پاس ختلو

یو وخت یی ډیری لوړی ځوکی ته ورسیدو چی واوره پری
. شروع وه

. ما خو په ژوند کی ډیر ځله واوره کتلی وه

. څه خاص غبرګون می ونښود

. خو بی پروا انجلۍ ډریور ته وویل:چی استاذه ودریږه ودریږه

. موټروان چی ودرید

. بی پروا انجلۍ دواوری موټی ډک کړ

. همدلته یی لوبی پری شروع کړی

. زه ورپسی ورکیوتم شرم وو

. زر می موټر ته راپورته کړه

. هری خواته یی حیران حیران کتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو ما ورته وویل:ځان جدی ونیسه کنی خلک درپوری خاندی
.

. ریشتیا هم چی موټرونو کی یی خلک وکتل ټولو پری خندل

. تندی یی غونج کړ

.سر یی ټیټ واچاوه

خو ما ورته وویل ګوره زه خبر یم ځکه درته بی پروا انجلۍ
. وایم

. ته ریشتیا هم بی پروا یی

. خو داافغانستان دی دلته هرڅوک دبل چا په کارکی کار لری

. دلته هیڅوک هم نوبت نشی راوباسلی

. ځکه چی خلک ورپوری بیا خاندی او ټوکی ورپسی جوړوی

.نورسبا دشپی اته بجی نشروم په طمع شۍ

🌹🌹🌹!بی-پروا-انجلۍ-ناول-دریمه-برخه#

🌹🌹🌹🌹"لیکوال:سیدادریس🌹🌹🌹"سادات

لومړی یی لایک کوی بیا یی لولی چی ماته معلومه شی نا.رل
🌹🌹🌹.خومره ورونه لولي

😥. دلته هیڅوک هم نوبت نشی راوباسلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

. ځکه چې خلک ورپورې بیا خاندې او ټوکې ورپسې جوړوې

😳. موټر بیا خپل حرکت ته دوام ورکړ

😳. ډېر ژر کابل ته داخل شو

. او خپل تم ځای کې ودرېد

😟. مازیګر وو

😳.یو اطاق مو کرایه کړ

😔. سخت ستړې وم غوښتل مې استراحت وکړم

.بې پروا انجلۍ هم همداسې ویده شو

. یو وخت مو چې سترګې پرانیستلې بیرون راووتلو

. موږ فکر کاوه سحر دې خو چې ومو کتل ملا اذان وکړ

چا نه مې پښتنه وکړه چې دچشې ورځ ده ویل یې سې شنبه ده نن.

.ریشتیا هم یوه ورځ مو پوره خوب کړی وو

.بې پروا انجلۍ هم راویښه شوه

.ځان مو هډې ته ورساوه یو موټروان ولاړ وو

.سګرټ یې لګولی وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره موورسره وکړه .

روان شو .

یو وخت کی موټر کی هم ویده شوی وم .

چی ناګهانه ډزی شوی .

دډزو غږونه می لومړی ځل لپاره واوریدل .

سخت وبیریدم .

غوږونو کی می ګوتی کیښودی .

دسرک یو خواته دملی اردو عسکر ولاړ وو ډزی یی کولی بلی خواته طالبان و.

جګړه خه په شدت کی روانه وه .

په موټر کی ناستو خلکو خپل سرونه ټیټ کړی وو.

دموټرونو اکثر ښیښی ماتی شوی .

بازی نفران په موټرونو کی هم ولګیدل .

زموږ موټر کی هم یو نفر ولګید .

بی پروا انجلی دلته بی پروا نه وه .

سر یی ټیټ کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

. غوړونو کی یی ګوتی ایښی وی

. بیخی زیاته بیریدلی وه

.جنګ خه په ګرمه کی و

. موټرو والا دافیصله وکړه چی زو که دلته ودریدو

. نو موږ به یو هم ژوندی پاته نسو

.خو جنګ تر ډیره لری ځایه شروع و

. یو ځای کی پولیس ولاړ ول

. هیڅ موټر یی هم مخکی نه پریښودل

ټول مسافرین یی له موټرونو څخه کیباسل ورته ویی ویل :دلته کوم کلی کی تاسی ټول مسافرین اوس لپاره پټ شئ هر کله چی جګړه ارامه شوه .

. بیا به ولاړ شئ

. دغزنی خلک ډیر غیرتی خلک دی

. ټولو کورونو والا میلمانه وه خپلو کورونو ته وروبلل

. خو بیا هم نه ځایده

M دشپی اته بجی وی

.نور دخوب وخت وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

. انجلۍ می کور ته ولیږله

. زه په حجره کی پاته سوم

اول خو زه مخکی ځای کی ناست وم خو وروسته مشرانو ته ځای نه وو.

. زه مجبور سوم تر څو ځای ورته پریږدم

. زه له کوټی نه ووتم

.بیرته چی راغلم هیڅ ځای نه وو

. نوری کوټی او کورونه هم ډک ول

. ولاړم جماعت ته

M هلته خه وو څوک نه وو

. خپل سادر می دسر لاندی کیښود

. فکر کی ولاړم

چی میلمانه خو زموږ ننګرهار ته هم رازی والاکه یی موږ
. پښتنه هم کوو حال داچی خپلوان مو وی

. او داخلک پردو ته میلمستیا کوی

.ما دځان سره دهمدی ځای نه هوډ وکړ

.چی هیڅکله به هم خپل میلمه پرینږدم چی بل ځای ته لاړ شی

(c) ketabton.com: The Digital Library

M ولی چی ماته معلومه شوه

.جومات کی سخت ماشی وو

اوس راته معلومه شوه چی خلک ولی جومات ته نه راتلل دلته .میاشي ډیر زیات وو

.او هغه غټ غټ ماشی وو

. شپی می دهماغی پخوانی سپوږمی رڼا ته سبا کړه

. خو د سخت درد نه ډکه

په سبا بی پروا نجلۍ راووته یو څه خلک تلل ویل یی چی موږ .وخت نشو تیرولای باید لاړ شو

پولیسو ورته ډیر وویل خو ولاړل همداسی یو یو نفر تللو .موږ .هم غیرت وکړ روان شو

. په لاره کی دبی پروا انجلۍ په سترګو کی یو ډول خفګان وو

. البته دخپل پلار لپاره به خفه وه

. خو زه یی په درد پوه شوم

ورته ومی ویل:ګوره بی پروا داژوند دی هر څه پکی رازی . خدای تعالی به هر څه سم کړی ته به ګوری انشاالله

.په ژړا غیرۍ ته راپریوته ویل یی

(c) ketabton.com: The Digital Library

داهر څه به سم شی ساداته ایا داوطن به ددی وړ شي چی زموږ پشان مهاجر ورته بیا راستانه شي .

ما ورته وویل :دنیا په امید خوړل کیږی امید ساته هر څه به خدای وکړي .

دهمدی خبری سره یو شپیلی پشان اواز پورته شو.

ما هاخوا دیخوا وکتل .

هیڅ هم نه و.

خو موږ سره یو پوه سړی و.

ویی ویل:پروت ټول سملاستل زه نشوم سملاستلی په ملا یی یو ګلورین سوک راکړ .

ټول سملاستو .

یو کړنګ شو.

دوړی پورته شوی .

توری لوخړی مو مخی ته پورته شوی .

پوه سړی وویل :هلی تکړه شی منډه کړی چی نور هاوانونه هم رازی ریشتیا هم منډه مو کړه خو دوه منټه وروسته بیا هماغسی دشپیلی اواز شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هماغه سړی بیا وویل پروت

. ټول زما په شمول سملاستل

. هر کله چې لوخړی ورکی شوی بیا مو نو منډه واخیسته

. بی پروا خپل مرګ پخپله وکوت

. ډیر مایوسه شوله دخپل وطن نه

.ماچې وکتل ګورم یو سړی و

. یوی کندی ته غورځیدلی وو

M دپروت لپاره یی سم ځای نه وو میندلی

.کندی ته یی ځان اچولی وو

. لاس یی مات وو نیم نه وو

ژړل یی ویل یی خدایه زما لاس بی لاسه ژوند خو ډیر ګران دی .

. اوف ډیره سخته صحنه وه

. ټولو خلکو منډی وهلی

. زه دی سړی پسی ورکیوتم

. دسمال می وشکاوه لاس می ورته وتړلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته ومی ویل وروره څه چی وشول رازه چی زو تګ خو په پخو کوی .

سړی راپورته شو .

زموږ ملګری سره دبی پروا انجلی رانه ډیر مخکی تللی وو .

موږ ورپسی وو .

دی سړی ته خدای همت ورکړ .

منډه کی تکړه وو .

ما هم منډه تیزه کړه ترڅو ملګرو ته ورسیږم .

خو داځلی بیا هوان وچت شو موږ دپوه سړی نه یاد کړی و چی پروت پروت مو وکړ خو هوان لری چیرته ولګید .

منډی ته مو بیا کش ورکړ .

زه خو خپلو ملګرو ته ورسیدم خو هغه لاس چی یی مات وو .

هغه سړی لګ څه وروسته پاتی وو .

یو ځلی بیا هوان وچت شو.

ټولو پروت وکړ .

خو هغه لاس چی یی مات وو هغی ونکړ .

دی هوان داسړی اسمان ته پورته کړ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما مخکی او دی ځمکی ته یی خالی دهغی غوښی
. راوغورځیدی

داسی منظر زما پشان مجرد بی زړه او نازولی انسان لپاره یی
. لیدل ډیر ګران دی

. پخپله ګوته می خوله ټینګه کړه

. دډیر خفګان نه می دګوتی وینی وڅښلی

. دژړا لپاره می نوری سلګۍ نه لرلی

. بیا مو منډه کړه خو پدی ورځ مو ټوله منډه ووهله

. دماښامی ټیم کی دهاوان غړ.ونه ورک شول

دشپی په اته بجی مو یو داسی ځای ته ځان راورساوه چی
. پولیس پکی ولاړ ول

. او دیخوا یی څوک نه پریښول

. موږ همدی ځای نه موټر کرایه کړ

. موټروان روان شو

.ما ددواړو سترګو منځ په دوو ګوتو سره نیولی وو

. سترګو نه می اوښکی روانی وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهاغه سړی اواز می ذهن ته راته چی هر چاته به یی دسوال
. په غږ اواز کاوه چی ای وروره زما کومک وکړی

. خو چی ورسره کومک نکاوه

.هغه خالی پخپل لاس خفه و

.خدای ورنه ټول ژوند واخیست

داوخت نو موټروان غوږونو کی ګوشکیانی ایښی وی خه په
. شوق روان وو

. بی پروا انجلۍ زما د ولو نه لاسونه تاو کړل

.ویل یی :ولی خفه یی ما ورته دخفګان علت وویلو ویل یی

. یاره پریږده یی تا خو خپل مسؤلیت ادا کړ

. نور به خدای تعالی ورته ژوند نه وو لیکلی

. ته ولی هڅی ځان ته پری درد وروړلی

. خو زما لپاره سخته وه

. داغم می هیڅکله هم دذهن نه ونه ووت

.اوس هم ندی وتی

. موټروان پخپله لاره خه په موشن کی روان وو

. یو ځای کی ودریدو

(c) ketabton.com: The Digital Library

. ویل یی دادی قندهار ته ورسیدلو

. په قندهار کی مو شپه راغله

قندهاریان هم خه دی میلمه پالنه کی

. خو نه پوهیږم چی ولی خدایی دننګرهاریانو سره نه لګی

. ګر چی ننګرهاریان دقندهاریانو ډیر عزت کوی

خو په هر حال یو ملګری پکی وو

. هغی سره مو شپه وکړه

. سبا سهر وختی تری وخوځیدو تر څو ولاړ شو چمن ته

. دچمن په لاره اول سر کی پولیسو ودرولو

. موټر یی تالاشی کړ

. زه دروغ نه وایم حقیقت وایم

هر څوک چی هر رقم فکر کوی ودی کی هو په دی قیصه کی

. ددروغو په نوم هیڅ هم نشته ټول حقیقت دی

. پولیسو موټروان ډیر پعذاب کړ

. پیسی یی ورځینی غوښتلی

اخر کی ما ورته دوه سوه افغانۍ جیب کی کیښودی پریښودو

یی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

. مخکی ولاړو ګورو اسلامی جنډه لګیدلی وه

. دطالبانو پوسته وه

. یو سپین مخی قاری صاحب موټر ته راوخوت

. تکه سپینه پګړی یی دپختونولۍ او غیرت چغی وهلی

. ګیری یی داسلام دین په افتخار سره خلکوته معرفی کولو

. ویل یی

. اسلام علیکم ورحمة الله وبرکة

. ما ګیره خریلی وه

. برګبرګ یی راته وکتل

. ویل یی ته راتا سه

. چی ورکیوتم

. یو سو خوندور نصیحتونه یی راته دګیری باره کی وکړل

. موږبیخی دی خلکو ته په خه نظر نه کتل

. خو دلته راته سمی فرینتی معلومی شوی

M بیرته موټر ته وختم ویل یی لاره کی خو څه مشکل نه وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو مسافرينو ورته وويل :مننه وروره خو غزنی نه راديخوا سخت جنګ شروع وو .

سخت يی وزپلو .

قاری صاحب وويل:ورونو که تاسی ته څه تکليف دررسيدلی وي .

زه بښنه غواړم .

او هغه هاوانونه چی دغزنی په لاره کی لګيږی .

هغه ستاسی حکومت والا يی راولی .

تر څو زموږ ډله بد نامه کړی .

خو تاسی فکر مکوئ انشاالله موږ ډير ژر راتلونکی يو .

طالب جان له موټر څخه کيوت خدای پامانی يی وکړه .

او موټر روان شو .

ديو څه مزل څخه وروسته دچمن بارډر ته ورسيدو .

نور دسبا نشروم په تمه اوسی.

🌹🌹🌹🌹🌹.بی_پروا_انجلی_ناول_څلورمه_برخه#

(c) ketabton.com: The Digital Library

🌹🌹🌹🌹🌹🌹"لیکوال:سیدادریس🌹🌹🌹🌹"سادات

🌹ترتیب کوونکی:دښار هلک

. دیو څه مزل څخه وروسته دچمن بارډر ته ورسیدو

.دچمن بارډر کی سخته ګڼه ګوڼه جوړه وه

! بس تکړه هغه و چی یو صف کی ځان ځای کړي

.موږ هم ځانونه په یو صف کی ځای کړل

.دیو ساعت انتظار نه وروسته دبارډر اخري سر ته ورسیدو

پولیس ولاړ ول ګیره یی خریلی وه او تور غټ غټ بریتونه یی پریخی وو.

!تور لباس یی اچولی و

.ډیر بد اخلاقه وو

زه روان وم تللم راوییی ګرځولم ؟

. ویل یی:بالا چیری زی

! مهاجر کارډ دی راوخایه

.ماسره مهاجر کارډ نه وو ځان می پری کوڼ کړ

. راپسی راغی یوه سپیره یی په دامخ ووهلم

(c) ketabton.com: The Digital Library

. ویل یی :زما اواز نه اوری مهاجر کارډ دی راوخایه

ما ورته وویل:نشته

ویل یی نو بیا تګ هم نشته زی ولاړ شی خپل وران افغانستان ته مو .

. بی پروا انجلۍ ته یی ټیله ورکړه

. نور نو دزغملو نه وه

. دجیب نه می دپلار اوسپنیزه ګوتمۍ راوباسله

. په ګوته می کړه

. ما ویل چی هر څه کیږی نن به دغه پولیس وهم

بی پروا راته وویل:ساداته تیر شه ورنه خو سخت می زړه راډک وو.

. ما دخدای نه همداسی وخت غوښته

. ګریوان نه می ونیو

دسی دوه دری سوکه می نه وو وهلی چی وینی پری راماتی شوی .

. ګوتمۍ سوکه په چشی لګیدلی وه تیره شوی وه

. ځکخ یی سړی خوږ کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

. تر څو چې پولیس خبریدل او رارسیدل

ددی سړی په بریتونو کی وینی ښکته روانی وی.

پولیس سره یو ځای شول.

. دامهال موږ داسی ځای کی ولاړ وو چې اخوا افغانستان وو

. او موږ پاکستان ته اوړیدلی وو

دافغانستان ملی اردو رامنډه کړه دوه ډلی شوی جنګ شروع سو.

سخت وهل وسول وروسته جنګ تر ټوپکو ورسید.

موږ بیرته قندهار ته راستانه شو.

. پوره دری ورځی جنګ وسو

اخر کی دهیوادونو مشرانو تر منځ سوله شوی وه.

. خو زه وس هم وایم هغه جنګ ما جوړ کړی وو

. څومره خلک چې قرباني شول زما دلاسه قربانی شول

. خو هغه بریتور هم بی ګناه نه وو

. ځکه چې پردی تور سری هڅی اوبو ندی راوړی

. چې هر څوک دی ورته لاس واچوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

. اخر موږ افغانان یو پخپل غیرت مو سر دپخوا نه تیر دی

. په څلورمه ورځ بیا راروان شو

. ما دمخ نه سادر تاو کړ

. هر چا چی به شناختی کارډ وخوغت بی پروا به وروخود

. دهغی په شناختی کارډ یی مهاجر هم پریښودم

. شکر خه وو

. کوم مشکل راته پیدا نشو

دپاکستان خاوری ته داخل شو.

. یو څه مزل مو پیاده وکړ

. وروسته یو ریل ګاډی تلله صوات ته

. دهمغی ټیکټ مو واخیست

. ځکه زما ارمان وو چی په دی ریل ګاډی کی هم چکر ووهم

. دامونو جوسونه مو هم واخیستل

. په لاره کی مو څښل

یو چرګ سجي سره دچکنی اوډوډی مو هم اغبار کی تاو کړل.

. بریانی وریجی مو هم راوخیستی

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ریل ګاډۍ کی یی ورته ښکلی ځایونه جوړ کوی وو .

دخوب ځای هم پکی وو .

تشناب هر ځای پکی وو .

موږ نو کیناستو خوراک ته ریل ګاډۍ روانه شوه .

سخت سرعت یی واخیست .

زما لومړی ځل وو چی پیخور ته راغلی وم .

ځکه می لومړی ځل لپاره ریل ګاډی وکوت خو بی پروا ټول عمر پیخور کی تیر کړی وو .

خو ریل ګاډۍ یی نه وه لیدلی .

هغه زما نه ډیره ورته حیرانه وه .

ریل ګاډی اصلا داسی عجب مزل کوی .

لاره یی سرک نه وی .

په یو عجیب او غریبو کورونو تیره شوی وي .

کله کله خو پکی سیند هم رازي .

موټر روان وو غوښته به مو یوه یو برخه کوله او وریجو سره به مو خوړله .

دلاری په اوږدو کی داسی ځایونه راغلل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

. ویډیو ګانو کی راخليhd لکه هغه فلم چی یی

داسی غرونه وو چی تک شنه و.

دغره دسر نه واوری یوه داره کړی وه تر اخره پوری.

. دیخی هوا او شنو بوټو داسی خوشبویی لګیدله

. چی دانسان زړه ته یی په ډیر غم کی هم خوشحالي ورکوله

. یخه هوا لګیدله

. دریل ګاډی همدلته لومړنی تمځای وو

. دلته پوره پنځلس دقیقی وقفه وه

. ما او بی پروا انجلیړاکیتلو

. یو تکه توره ویاله وه اوبه یی دومره پاکی وی

چی دویالی اخری تور ځای او دونو ریښی پکی خکاره
. معلومیدلی

. داځای ټول لوند وو

. داسی معلومیده لکه وس وس چی پکی باران شوی وي

. وریځ هم خپل دقهر اوازونه په بی پروا انسانانو کول

. لری ځای کی توری توری بنځی روانی وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

. سره منګی یی پر سر ایښی وو

. لګ وګرځیدو ډیر ژر پنځلی دقیقی پوره شوی

. بیرته ریل ګاډۍ ته وختلو

. پوره یوه ورځ کی صوات ته ورسیدلو

. صوات نه دپیخور موټر کی کښیناستلو

. دیو څه مزل څخه وروسته پیخور ته ورسیدلو

. پیخور هم ښکلی ځای دی

. خو ګڼه ګوڼه ډیره لري

. ځکه دسیل لپاره برابر ندی

خو موږ سیل ته نه وو راغلی موږ دبی پروا انجلۍ پلار پسی
. راغلي وو

. تر څو دهغی تداوي وکړو

. ډیر وخت شوی وو مور او پلارمی نه لیدلی وو

. نه می یی اواز اوریدلی

. په کوچنی ځان می ډیری سختیانی ولیدلی

. والا جوړ شوی وو pCo نږدی یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

. پیسی یی ډیری غوښتی خو زنګ می پلار ته وواهه

. مور او پلار سره می خبری وکړی

.خپل ددرد نه ډک سفر قیصه می ورته بیان کړه

بی پروا انجلۍ هم راسره وه ۔

زموږ په ځای کی موبایل خالی زما پلار اخیستی وو نور هیچا سره هم نه وو .

. دپلار سره می چی هر وخت خبری ختمی شوی

. موبایل می بند کړ

. شاخوا نه چا په سر ووهلم

m سترګی یی راته وتړلی

. زما سر وینی شو خوږ یی کړم بی هوشه نسوم

. خو یو څه درمل ورسره وو

. پوزی ته یی راته نږدی کړل

پلار می ډاکټر وودا یی راته یو وخت راخودلی وو چی که کا درته مخی ته دبی هوشی درمل ونه ول .

ساه دی وتړه بیخی یی تر هغی مه اخله چی تر څو یی درمل نه وی لری کړی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

. هو دبی هوښی تمثیل وکړه

. همداسی می وکړی

. هغوی راته سر هم وتړلو

روان وم دوی فکر کاوه چی زه بی هوښه یم خو زه په هوش
. کی وم

. ددوی ټولی خبری می اوریدلی

. د انتظار صیب نوم یی اخیستو

خو چی څومره پوه شوم دبی پروا انجلۍ لاس پکی وو

.دناول په باره کی راسره خپل نظرونه شریک کړئ

.په نشر کولو کی یی راسره مرسته وکوی

🌹🌹🌹🌹بی_پروا_انجلۍ_ناول_پنځمه_برخه

🌹🌹🌹🌹"لیکوال :سیدادریس🌹🌹🌹"سادات

🌹🌹🌹🌹 ترتیب کونکی :دښار هلک

🌹🌹🌹.دسادات نور ناولونه تاسی کولای شئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چی کتابتون پیج نه واخلی او درسره یی ولولی صرف
🌹🌹🌹. سیدادریس"سادات"کتابتون کی ولیکی

🌹🌹🌹.او ناولونو نه یی خوند واخلئ

🌚.دابرخه لږه وځنډیده لږ څه مشکل وو ښننه غواړم

😒. ددوی ټولی خبری می اوریدلی

😒. د انتظار صیب نوم یی اخیستو

😳 خو چی خومره پوه شوم دبی پروا انجلئ لاس پکی وو

😔. په ټرلو سترګو یی یوځای ته بوتللم

😌. ما دهغوی ټولی خبری واوریدی

😔. یو وخت یی راته سترګی خلاصی کړی

. داسی یو ځای ته یی راوستی وم

. چی تکه توره تیاره وه

. دلته یی بند کړم

. خالي یو وړوکی سوری یی درلود سپوږمئ پکی ښکاریدله

. نور هیڅ هم نه ښکاریدل سترګو می تور وخوړ

. بی خوده شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

. يو وخت راپاسيدم ګورم دوه نفر نور هم راسره وو

. هغوی بيخی خراب وو

. يوه ورځ مې دلته تيره کړی وه

. سخت وږی وم

. زه نه پوهيدم

چې څه وکړم.

. دتيختی هيڅ لاره مې نه ليدله

. خو نا هيلی هم نه وم

فکر مې کاوه چې بې پروا انجلی امکان لری زړه راباندی وخوږوی او راشي .

. په دوهمه ورځ يو څو تنه راغلل

. تور پوزکونه يی وهلی وو

. زه يی دهتکړيو سره روان کړم

. چې دزندان نه راووتم

. يو لوړه پوړی وه

. زه يی پری پاس راوخيجولم

(c) ketabton.com: The Digital Library

. داځای یو ګراج وو ټولې پکې قیمتي موټرې ولاړې وې

. داګراچ هم تاکاوی وه

. مطلب دی ځای کی دوه تاکاویانی جوړی شوی وی

. هیڅا هم پری شک نه سو کولای

. دګراچ نه یی لیفټ کی ودرولم

. همداسی په دی مارکیټ کی یی تر اخری منزله ورسولم

. اخری منزل کی نه کور وو او نه کوټه خالی یو میدان وو

ټولو کسانو پوزکونه وهلی وو صرف یو نفر پوزک نه وو
. وهلی

. فکر کووم هماغه یی مشر وو

. ریښتیا هم هماغه یی مشر وو

راته کړه یی ستا ذهن کی به ډیری پښتنی ګرځی رازه چی وس
. درته ټولی ځواب کړم

. لومړی زه انتظار یم

. او هغه او هغه روبینه ده

.چی ومی کتل بی پروا انجلۍ یی تړلی وه او بی هوښه شوی وه

. ډیر زیات حیران سوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی خو زه دوکه کړم دایی ولی تړلی ده .

خو انتظار نور سوچ ته پرینښودم .

ویل یی موږ خبر وو چی ستا پلار څومره پیسه لري .

څکه مو ددی جینی پلار ونیو تر څو تاپسی درشي .

او تا راولي .

دادی ته زموږ په لاس کی یی وس به داجینی هم موږ ډیره ژر ازاده کړو .

داکار ددی انجلۍ نه بغیر بل چا نشو کولای څکه مو په دی وکړ.

بی پروا انجلی یی سره دپلار موټر کی واچول .

چیرته لری به یی غورځولی وي .

زه تر ډیره بریده پوه شوم .

نو څکه می ورته وویل:چی وس نو ژر ژر زما دپلار نه پیسی واخلی ما آزاد کړی.

ویل یی سمه ده زه خوشحاله وم .

ما ویل بیرته به خپل وطن ته لاړ شم .

خپل ژوند به شروع کړم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

انتظارمی پلار ته زما مخکی زنګ ووهلو ورته یی
وویل:زوی دی پیخور کی زما لاس کی دی پنځوس زره ډالر
. راولیګه چی درته خوشی یی کړم

پلار می ورته په همدی ورځ پیسی راولیګلی او دچا په لاس
.چی یی پیسی راولیګلی همغی ته یی زه ورکړم

. زه یی په پښو روان کړم

ځنګل وو ویل یی دځنګل نه هاخوا ته سرک دی هلته به راته
. موټر ولاړ وي

. موټر کی چی کښیناستم

. موبایل می دډریور نه واخیست

پلار سره می خبری وکړی ویل یی:ته راشه افغانستان ته
. یاسین سره به زه پوه شم

. یاسین اکا دبی پروا انجلی پلار وو

. ما ورته وویل نه دادا یاسین اکا ریشتیا هم مریض دی

. وس نو باید دهغه درملنه وکړم

خو پلار می راسره ونه منله ویل یی ځان افغانستان ته
. راورسوه

. په دی موټر کی یی تر پاک افغان بسونو پوری ورسولم

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاک افغان بس کی یی راته 33م ټیکټ راکړ.

. خپلی چوکی ته می ځان ورساوه

. دکړکی خواته کیناستم

. زما دسنګ چوکی خالی وه

فکر می وکړ.

. کاش بی پروا راسره دی چوکۍ کی اوس ناسته وای

. داوخت یو انجلی راغله دځنګ په چوکۍ کی کښیناستله

. زما عادت دی که څوک می مړ هم کی انجلی ته نه ګورم

. تر اخره می ورونه کتل

په لاره کی یو هوټل راغی دشیشی نه می پیسی ورکړی کباب یی راوړ.

. اخبار کی یی تاو کړی وو یوه ډوډی هم ورسره وه

. نیمایی لیمو یی په سر ایخی وو

. تروه مساله یی پری اچولی وه

. ددنیا دانی پکی دورایه معلومیدی

. سخت وږی وم چکنی پلاستیک می خلاص کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

. په خوراک چی می شروع وکړه

. دسنګ انجلئ زما دمخ نوړی نیمه کړه

. حیران می وروکتل مخ ته یی پړونی نیولی وو

. دکباب یوه ځنډه یی په ډوډی کی پورته کړه

. زه هم لګیا شوم کباب می وخوړ

. ما ویل خیر دی انجلئ به هم وږی وی مشکل نشته

. دپاکستان نه چی روان وم

یوه یوه سیمه چی به تیریده بی پروا انجلئ پسی می زړه خوږیده .

. اخر می سترګو کی اوښکی راغلی

. دخنګ انجلئ پړونی وچت کړ زما اوښکی یی پاکی کړی

.بله برخه درته انشالله ډیرژر نشرووم په طمع اوسی مننه

🌹🌹بی-پروا-انجلئ-ناول-شپږمه-برخه#

🌹🌹🌹😳"لیکوال:🌹🌹سیدادریس"سادات

😍 ترتیب کوونک:دخار هلک

😘.ویی لولئ او خوندورنه واخلئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

😠. ضرور یی لایک کړی او نشرول مو یی هیر نشي

. اخر می سترګو کی اوښکی راغلی

. دځنګ انجلۍ پړونی وچت کړ زما اوښکی یی پاکی کړی

N پړونی یی زما سترګو کی پاتی شو

. چی ومی کتل بی پروا انجلۍ وه

. غیږی ته راپریوته او خه یی وژړل

. مانو څه نشو ویلی خو باور می هم پری نشو کولای

خو حیران دی ته وم.

. چی دا څنګه یو موټر کی برابر شو

. پښتنه می ورځینی وکړه چی داځنګه یو موټر کی برابر شو

ویل یی :ما دهغه ځای نه ته تعقیب کړی چی ته یی راخوشی کړی .

. زه خبره وم چی تا به ضرور راخوشی کوي

ته یی سرک ته وباسلی سرک کی موټر کی کښیناستی تاسی چی روان شوی همدی وخت کی یو بل موټر راغی .

. زه هغی ته ورپورته سوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

. ته یی دلته راوستی اوزه درپسی دلته راغلم

ما ورته وویل:وس نو ریشتیا ریشتیا راته ووایه چی ولی دی
. زه انتظار ته په لاس ورکړم

. ویل یی پلار یی راته نیولی وو

M خا نو تا دخپل پلار قیمت زما په پلار ورکولو ها

. ویل یی:نا ته یی غوښتی کنه پلار یی راته وژلو

. ورته ومی ویل وس نو ته بیرته ولی افغانستان ته راسره زی

راته کړه یی مکتب می ختم شو پاکستان کی کالج په ډیرو پیسو
ویل کیږی او ماسره دومره پیسی نشته زکه غواړم افغانستان
. کی درس ووایم

خا سمه ده موټر کی همداسی ویده شوی وم۔

.یو وخت کی بی پروا انجلۍ راویخ کړم

ویل یی:پاسه پاسه مخابراتو چوک ته راورسیدو.دخپل وطن په
. بیا لیدو باندی می سترگی روڼی سولی

لکه یو مسافر چی دیو څه وخت وروسته خپله مور ووینی ماهم
همداسی خپله خاوره وکتله۔

.ریشتیا هم چی خپل وطن خپل وطن وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خارج کی ډیر خوندور ځایونه شته دهیچا زړه هم پکی نه تنګیږی .

حتی تر دی چی طبیعی ځایونه یی هم دمصنوعیت په ډول جوړ کړی دی M

په غرونو کی یی مصنوعی لری جوړی کړی خلک ورته لیفټ کی زی او رازی .

. خو چی داکلیمه ورسره نه وي

چی دامی خپل دی.

. نو هیڅ خوند نلري

خپلولی یوه بیله رشته ده افغانستان یو ډاګ نه چی موږ ځومره خوند اخلو دبل وطن غټو غټو پارکونو نه دومره خوند نشو اخیستلای ځکه چی هغه پردي دي.

. که چیرته موږ دوطن نه بهر ووزو بیا موږ ته پته لګی

که کوم خپلوان مو مسافر وي پښتنه ورنه وکړی.

هغه به هم ددی وطن دیو تش ډاګ دکتلوارمان لري.

په تالاشی چوک کی می دمور او پلار لپاره یو من منی راواخیست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ دکورنی داعادت وو هر غړی چی به دلری ځای نه راتللو ځان سره به یی ضرور څه فروټ راوړل.

ریکشه مو ونیوله دلاری په اوږدو کی دریکشه وان ریکشه خرابه شوه زموږ کور نږدی وو ځکه پیاده وروان شو.

منې می لاس کی نیولی وی خو دومره خپل وطن ته خوشحاله وم .

. چی دمنو وزن می هیڅ نه محسوسولو

یو وخت رانه بی پروا منې کش کړی یوه تری راوباسله تر څو یی وخوری .

په همدی وخت کی دمنو پلاستیک سوری شو ټولی منی هاخوا دیخوا ته ګډی وډی ولاړی .

څه خو په ویاله کی ولویدلی زه حق حیران شوم چی وس څه وکړم.بی پروا وویل:هله زر شه چی راټولی یی کړو ټولی منې بی پروا خپل پلو کی واچولی .

!...راتلونکی برخه ډیر ژر

[8/15, 09:03] Sadat:

🌹🌹بی‌پروا-انجلی‌ناول-اوومه-برخه#

(c) ketabton.com: The Digital Library

🌹🌹"لیکوال:سیدادریس🌹🌹"سادات

🌹🌹ترتیب کوونکی:دخار هلک

وس څه وکړم.بی پروا وویل:هله زر شه چی راتولی یی کړو

. ټولی منی بی پروا خپلو پلو کی واچولی

. کورته راغلو

. زما هم مکتب نوی نوی ختم شوی وو

. کانکور ته می زړه وو چی دکانکور امتحان ورکړم

. ما او بی پروا انجلۍ دواړو کانکور ته امتحان ورکړ

. خو زه په پکتیا کی پښتو ادبیاتو ته کامیاب شوم

. او بی پروا ننګرهار کی

. والا پکتیا کی مسافری ډیره سخته وه خو شروع می کړله

.پوره پنځه میاشتی می پکتیا کی دادبیتو پوهنځی ووایه

. دهغی نه وروسته پلار می یوه قوی واسطه پیداکړه

. او ننګرهار ته یی راتبدیل کړم

. خو دی کار هم یوه میاشت وخت نیوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مطلب یی داوه چی یوه میاشت نور به هم بی پروا انجلۍ نګورم.

. دایوه میاشت راباندی ډیره اوږده شوه

. ډیر یوازی وم

نه می هم کوم ملګری لرلو دلته او نه هم کوم خپلوان دمکتب ملګری خو رانه ننګرهار کی پاتی شوی و.

دشپی تر ناوخته به داور لمبو ته ناست وم.

. بی پروا به می ذهن ته راتلله

ریښتیا هم سخت خفه وم.

یوه ورځ راته استاذ ددرس باره کی وویل :چی ولی یی نه . یادوی

لګ څه یی ورټلم بیا بی خوده شوی وم.

خو پس له شپږو میاشتو خپل کور ته راغلم فکر می کاوه بی . پروا به هم کور کی وي

. وبه یی ګورم په دیدن به یی تازه شم

خو چی دپلار نه می پوښتنه وکړه ویل یی دلته خو داوړی . چوټیانی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

. او دیاسین اکا لور تللی پاکستان ته سخت خفه شوم

. خو صبر می نشو کولای دکور څخه راووتلم

. ننګرهار کی دنارنج باغ نه شاته یوه تپه ده هغی ته وختلم

. ټول ننګرهار تری خکاریدو

دمکتب ملګرو او همصنفیانو ته می زنګ وواهه دخپل راتګ می ورته وویل:ډیر خوشحاله شول ویل یی موږ درځو ته . هماغه تپه کی پاتی شه

یوه شفا می دلاندی دوکان نه ځانته راوخیسته سره دلګ څه . بیسکټو

. دتپی پر سر ورته کښیناستم

. لګه شیبه وروسته می ملګری راغلل

.ټولو سره می روغبړ وکړ

. ویل یی یاره ساداته ته چی نه وی بیخی ژوند خوند نه راکاوه

خه دی چی ته راغلی چکری به لکه دپخوا پشان وهو میلی به . کوو

زما رویه یو څه بدله شوی وه خو دملګرو سره می په ورین .تندی خبری وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

. لکه دپخوا پشان مو مزاق سره وکړ

. پدی ورځ لګ خوشحاله سوم

. ځکه چی پکتیا خو ماته ددوزخ نه کم نه وو

. هیڅوک می هم پکی نه پیژندل

. دچا سره مو زړه دخلاسه ګپ نشو الوزولای

.خو دلته خه وو یاران می وو

.نن ورځ تیره شوه شپه می خه بی غمه خوب وکړ

. خو سهار وختی برقونه تللی وو

. راپاسیدم جانراتور می ولګاوه خوب نه راته

. دسهار اذان لا نه وو شوی

. اودس می وکړ

تر څو تهجد وکړم دوه رکعته تهجد می وکړل او خدای نه می دعا وغوښتله دمور اوپلار بی اجازی روان شوم .

پاکستان ته خو داځل می چل زده کړی و.

. اړتیا نه وه چی دسپین بولدګ په لاره تللای وای

ځکه چی دتورخم په لاره هر چا پیسی اخیستی ما هم پوره دری زره کلداری ورکړی او هاخوا یی واړولم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

. ها خواته مى موټر سپيشل كرايه كړ

سيده ولاړم جميل پسى روغبڼ مو سره وكړ.

ويل يى چى بيا سنګه راغلى بيا غواړى چى انتظار دى ونيسى اوكه دپلار سره دپيسى ډيرى شوي دي .

ټولو ملګرو يى وخندل ما ورته وويل جميل كاكا دياسين كاكا كور راته راوخايه هغى پسى راغلى يم .

. خوله يى زما غوږ. ته رانږدى كړه

په قلاره يى وويل:ولى وژنى يى څه

ما ورته وويل نه كاكا خداى دى نكړى زما ورسره لګ څه شخصى كار وو .

. خپل يو نفر يى ماسره كړ

. سيده يى دياسين اكا دكور مخى ته ودرولم

. زړه مى دربيده

. خو بله چاره مى نه درلوده

. ځكه چى وس دومره راغلى وم

. زړه نازړه مى دروازه ورټک ټک کړه

. دمخى سره مى بى پروا انجلۍ مخى ته ودريده

(c) ketabton.com: The Digital Library

حیران حیران یی راته کتل

دسترګو نه یی معلومیدل چی خه ډیر یی ژړلی دي.

. او بی خوبی هم پری تیره سوی وه

زما په کتو یی دخوند موسکا وکړه او دډیر وخت څخه وروسته

. می غیږی ته راغله

دواړو سره خه وژړل خو دجمیل کاکا نفر وویل:چی دا

پښتونستان دی تاسی رازی چی دننه ولاړ شو.

هڅی نه کومه لانجه راته جوړه نشي.

. دننه ولاړو

. دبی پروا انجلۍ پلار رک روغ وو

M پخپل ځای ناست وو

ځوان سړی و.

. هڅی دانتظار په بنګله کی سپین ګیری راته معلوم سوی وو

. یوه شیبه ورسره کښیناستم ځان چی می ورته معرفي کړ

. ډیر زیات خوشحاله سو

مانه یی ښښنه وغوښته

ویل یی چی ددی انجلی په سر زه ستاسی نه ښښنه غواړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

.ریشتیا هم چی تاسی ته یی لویه دوکه درکړی وه

داوخت بی پروا انجلۍ کوټی ته راننوته پتنوس کی یی چای چوش دری ګیلاسونه او څه بادام نښود کشمش او پلی راوړی وو .

. چای مو خه په خوند خوند وڅښنه

. دبی پروا انجلۍ دپلار سره می خدای پاماني وکړه

خو په ورقه کی می یو څه ولیکل او په خپل ځانګړی هنر می . یی دپلار نه پټ ورته ورقه ورکړه

ورقی خط یی لوستی و اومازیګر 4بجی فکس راته صدر روډ . کی ولاړه وه

. زه هم هلته ورته دیو موټر سره ورغلم

. راوچته می کړه

.لاړو دمري په طرف چکر ته خکلی چکر مو وواهه

. دغرونو په زانګو ګانو کی کښیناستو

بس فکر می کاوه چی په ژوند کی دی نور هیڅ هم راسره نه . وي خالی چی راسره بی پروا انجلی وي

. کافی ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه خکلو سندونو ته ولاړو .

ماته لامبو یاده نه وه خو بی پروا پکی خه ډیر ولامبل .

دهغی ځای نه لاړو دپاکستان کلیوالی سیمو ته .

تازه هوا مو تنفس کړه .

خو هر کله چی کلیوالی سیمو ته ورسیدو نو دشپی اته بجی وی .

داشپه مو ټوله په چکر تیره کړه .

دپاکستان تر ټولو خه کار دادی چی هلته خلک دشپی ګرځی دورځی هیڅوک هم چکر ته نزی .

دوکانداران هم دشپی دوکانونه خلاصوی .

دسهار څلور بجی می بی پروا خپل کور ته ورسوله .

جمیل اکا ته می دبی پروا خبره وکړه .

هغی راسره ومنله .

راسره ولاړه زه دحجری نه بهر ورته کښیناستم هغوی حجری ته ورغلل داوخت می یو دم پلار زنګ راووهه زنګ می یی وچت کړ .

سخت یی بیابه کړم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

. ویل یی چی بی غیرته ته به وس دیاسین دلور سره واده کوی

. ایا هغه ستا دشان سره برابره ده

.ما ورته وویل:لالا مینه مینه وی

. زه دلته په بی پروا انجلۍ پسی راغلی یم

. که مرم هم بیرته نه درزم

نوری کنځلی یی هم راته وکړی قسم یی راته وخوړ چی داجینی دی رانه ونکړه.

. موبایل یی بند کړ

یوه شیبه وروسته جمیل اکا راغی ما ورته وویل کاکا څه وشول ویل یی :یاره ته دخپل پلار سره مشوره نکوی او پخپل سر کار کوی .

.دا خبره یی وکړه او نور ولاړه زه سخت حیران سوم

. چی داوس چشی وشو

. او زه به څه کووم

..خپل پلار راته خدای دشمن جوړ کړ

مانور هیڅوک هم نه پیژندل ولاړم پیخور ددیانی اخیستونکو . ځای کی دیو څو منتو لپاره دمی ته کښیناستم

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیسی می هم په ختمیدو وی په دی هم خبر وم چی پلار نوری نه رالیږی باید خپله ځان ته څه غم وخورم.

. موټر هم دجمیل کاکا وو هغه یی هم رانه ویوړ

یو څه وخت لپاره همدلته ناست وم.

. یو موټر راغی دټولو کارکوونکو ومخی ته ودرید

هر یوه ته به یی کتل اخر یی چی زه وکتلم راته ویل یی که کار غواړی راپورته شه ځوانه .

داشخص زنانه وو.

. زه ورسره زړه نازړه وختم

. ځکه چی کار خو می غوښتو

. روان یی کړم داسی دری ساعته مزل یی راباندی وکړ

خپل کور یی چی راورسید ماته یی بلنه راکړه.

. ورسره کورته یی ورننوتم

خوندوره ډوډی مو وخوړه په داسی کوچ ورسره ناست وم چی مالا تراوسه افغانستان کی ندی لیدلی .

. دی انجلی خپل مخامخ ته کښینولی وم

. زما ورته فکر وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګی یی په ما کی ښښی کړی وی.

. په زیر زیر یی راته کتل

هر کله چی مو ډوډی وخوړه ویل یی دوه کارونه دی کوم چی دی خوخ شو .

. نور سبا نشرووم راتلونکی برخه په ضیمواری دلچسپه ده

🌹🌹🌹ضرور یی ولولی

[8/15, 09:03] Sadat:

🌹🌹🌹بی‌پروا-انجلی🌹ناول-🌹اتمه🌹-برخه#

🌹🌹🌹🌹"لیکوال:سیدادریس🌹"سادات

🌹🌹ترتیب کوونکی:🌹دشار هلک

🌹🌹.داوومی برخی اخری لفظونه

🌹.سترګی یی په ما کی ښښی کړی وی

😳. په زیر زیر یی راته کتل

هر کله چی مو ډوډی وخوړه ویل یی دوه کارونه دی کوم چی 😳دی خوخ شو

اتمه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

😒. هماغه وکړه ماورته وویل کوم کوم

ویل یی اول زما کور کی اشپزیده او دوهم داخطری کار دی
.خو پیسی پکی شته ما ورته وویل څه کار دی ویل یی

😳. باید قاچاق تر کراچۍ ورسوی

. خو دپولیسو کار دی خپل دی

